# اویاکاله برباد شومه

ـیلامن پښتین

آریان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

# اویاکاله برباد شومه!

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:0071 501 455350

CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

CamScanner

# اویا کاله برباد شومه!

لیکوال : حضرت نعیم "غیرت" مشهور په کیلامن وزیر

چاپ کال: اگست ۲۰۱۹م

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

..........................................................

Downloaded From:

..............................................................

https://t.me/AryanPashtoLibrary

................................................................

WhatsApp:00971501455350

................................................................

CamScanner

## ډالی

دپښتون زغورنې غورځنګ نومياليو مبارزينو هر يو حنيف "پشتين" او نديم "عسکر" ته چې د پښتون قام د ويښتيا او روښانتيا په پار يې د قرباني ميدان ته دانګلي!


..............................................................
Downloaded From:
..............................................................
https://t.me/AryanPashtoLibrary
..............................................................
WhatsApp:00971501455350
..............................................................

CamScanner

# د پښتني مقاومت د ادبياتو ژوندي فصل

د مقاومت ادبيات Resistance Literature چې په يوشمېر پښتنو کې د مزاحمت ادبيات يا (مزاحمتي ادبيات) هم بلل کيږي، د ظلم، بېعدالتى، توپيري چلند، ټولوژنې، هويتي مسخ وفسخ او تبعيض په وړاندې د هنري پاڅون ټوليزغبرگون ته ويل کيږي.
د فلسطين، لاتينې امريکا او تورپوستې نړۍ په فرهنگي تاريخ کې د مقاومت ادبيات خورا ځلاند ځاى لري.
پښتانه، چې اوس اوس د نړۍ تر هر بل ولس زيات مظلوم، مقهور او له عاموژنې، تبعيض، نسلوژنې Genocide او سازماني پوپنا کبدو سره مخامخ دي، د هر بل ولس په څېر په خپل ادب و فرهنگ کې د مقاومت غبرگون څرگندوي.
اجازه راکړئ، چې د قدرمن گيلامن وزير ( حضرت نعيم غيرت) د مقاومتي شاعرۍ د همدې ټولگې په پيل کې ووايم، چې پښتانه ټول د نړۍ له سازماني او سنجول شوي ظلم سره لاس وگرېوان دي، اجازه راکړئ همدلته دا حقيقت چيغه کړم، چې موږ له نسلوژنې Genocide سره مخامخ يو او د نړۍ ښکېلاکي ځواکونه د سيمه ييزو فاشيستو استخباراتو په مټ غواړي پښتانه د نړۍ له مخې ورک کړي. يوازې شريف ملتپال ( نيشنليست) افغانان په دې نړيواله توطئه خبر دي او مقاومت کوي. د دغې نړيوالې دسيسې په تورو لاسونو کې لوېې وسلې

او وسیلې؛ تکفیر، استعماري ببلتون، له دین او جهاد څخه سیاسي - استخباراتي گټه اخیستنه او د ځوانو پښتنو داسې رواني مسخ کول دي، چې ټوپک دې را واخلي او خپل خلک دې ووژني.

د پښتنو په ضد د دغې نړیوالې سناریو په وړاندې د مقاومت یوازینۍ لاره دا ده، چې پښتانه راویښ شي، روښانه شي او د یوه پښتني بدلون راوستلو لپاره په گډه راوخوځول شي. ادبیات او هنر په دې لاره کې تر ټولو اغېزمن کارتوکي ( وسایل) دي. د پښتنو زغورنه فرهنگي جگړه غواړي او ورسره هوښیاره او منظمه مبارزه و مقاومت.

پښتو شعر د دې مقاومتي مبارزې یوه لویه برخه بار پر اوږو اخلي او په دې توگه د پښتنو د راویښولو سپېڅلې مبارزه د هنر په وریښمینه لاره شونې ده.

په ټول پښتون - افغان وطن کې د لوی افغانستان ارمانجن او د پښتنو د راویښولو او روښانولو لوغړن پتنگان لگیا دي او د ټول ولس چیغې د نړۍ د وجدان کڼو غوږونو ته رسول غواړي. په دوی کې یوهم د همدې ټولگي اورژبی شاعر قدرمن گیلامن وزیر دی، چې د ښامار په خولې کې د بېدارۍ سندرې بولي :

دا درسره کړي کوم مُلا د جنت ژمنه ده

دا خو جهاد ندی،اشنا دا خو ورور وژنه ده

دلته يو گلخان دی،دکشمير جنگ ته تېر وهي
خپله مور يې نـاسته په خېمه کې بې وطنه ده

هر قوت چې وغواړي هم مړيې کړي هم پړ يې کړي
تـوره د پښتـون د تـرهگـر پـه نوم لمنـه ده

مونږه را اوچت کړو په دنيا مونږ يې کړو در په در
اې پښتنـو دا دې شنـه او سپيـن بيرغ منته ده

خان په حقه وژني تور ته تور او سپين ته سپين وايي
ځکـه زمانـه د "گيلامن" نـه گيلـه منـه ده

دغه خو بيتونه د افغان انسان او افغان وطن د غميزې اصلي روايت Narrative دی .

دا سمه ده، چې ښاغلي شاعر به هرځه سپين او مخامخ ويلي وي او ډېر به يې د هنري او استعاري پوښښونو او سينگارونو پروا نه وي ساتلې، خو تاسو د نړی په ټولو ژبو کې وگورئ، د مقاومت د شعر ژبه همداسې سوزنده او مخامخ ده، مگر داچې د خلکو فرهنگي او ذوقي کچ يې خورا لوړ وي.

CS CamScanner

گیلامن وزیر یوازې د پښتني ملي مقاومت بلبل نه ، بلکې په عملي توګه د ښامار مخامخ ولاړ هغه اساطیري پهلوان هم دی، چې د ساندو او چیغو تر څنګ یې د تورې او ډال شرنګاشرنګ اوربدلای شو. زولنې، پردیسي، سپکاوی او محرومیت د دې مبارزې تر ټولو اسانه ګواښونه وګڼئ، چې لا د ژوند و مرګ خطر یې په لومړي لیکه کې دی.

په کیسو نشي په تلي به ورته پړدو سرونه
د غلامۍ له غړوندو چې خلاصوو سرونه

تاریخ ګواه دی،بې له خدای چاته ټیټ شوي ندي
د ننګیالیو، مېړانیو پښتنو سرونه

دا خپل حقوق او ازادي پر موږ تر هغې قسم
زما ملګرو چې تر څو موږ صرفوو سرونه

د دې دوه مخو مشرانو سره نه خوري سمون
دغو عبث دي درانه کړي په شملو سرونه

مونږه وطن ګڼو،سرهم ساتو نه داسې نشي
چې خپلواکي غواړو ضرور به ماتوو سرونه

CamScanner

حوصلې مه ماتوئ اې ملګرو دا متل دی
پر سر یې لار وي که هر څو لوړ وي د غرو سرونه

چې د افغان له نوم منکر وي، د خوشحال په توره
اې "ګیلامنه" له هغو به غوڅوو سرونه

د ګیلامن او د ده د همزولي نسل د سربښندنې روایت له زاړه هغه سره دا توپیر لري، چې دوی ببخایه د وژلو او وژل کېدلو چیغې نه وهي، د دوی لپاره ژوند مهم دی. دوی هوښیاره او ژوندپلوې مبارزه کوي. هو! د ویښتیا نښه همدا ده، د دې بیت مفهوم وګورئ، چې پخوانیو حماسي بابولالو سره څومره روښانه توپیر لري:

مونږه وطن ګټو،سرهم ساتو، نه داسې نشي
چې خپلواکي غواړو ضرور به ماتوو سرونه
حوصلې مه ماتوئ اې ملګرو دا متل دی
پر سر یې لار وي که هر څو لوړ وي د غرو سرونه

د افغان نسلوژنې په وړاندې د پښتني وجدان د وچت غږ دغه ټولګه زیری راکوي، چې موږ د مقاومت د ادبیاتو یو نوی فصل راپیل کړی دی، چې له سرو جنډو سره د ژوند د سباوون لار لنډوي. د احمقانه قربانیو

او تشدد په زیان و ضرر پوهیږي او غواړي ټول افغان ته د ژوند مینه او سیاسي خِرد وروښيي.

په دې، سمندرشانه پاڅون کې زه د ګیلامن وزیر دنګ قامت په لومړي کتار کې وینم.

خُوانه مبارک شه !

پښتون ته ژوندون غواړو!

څېړنوال عبدالغفور لیوال

۲۰۱۹ / اوګوست / ۱۰ مه

آریان پښتو کتابتون
ARYAN PASHTO LIBRARY
+971501455350
2022

CS CamScanner

# اويا كاله برباد شوم، مزاحمتي بيانيه

ما چې څومره د ادب مطالعه کړېده پرته له اختلافي نظرونو مې ډېر څه ندي ليدلي، څومره فکري تضادات چې په فلسفه، مذهب، سياسيات، معاشيات او بېلابېلو نظرياتو کې دي هغومره تضادات په ادبياتو کې هم دي، مطلب دا دی چې هر ازم د بل ازم نه بدل نظر لري، د ادب او ټولنې(سماج) د رشتې په حقه هم بېل بېل نظرونه دي،هر ازم، هر دانشور،هر فلسفي د ادب او سماج په خپلمنځي تړون بېل بېل نظر څرګند کړيدی، ځينې خلک وايي چې ادب به د سياست نه ليرې ساتو، ځينې بيا وايي چې ادب به د ژوند لپاره وي، ځينې وايي چې د ليک،تخليق او قاري يا سامع ترمنځ د پوهې واټن به د تنقيد او نقاد په ذريعه کموو يعنې هر چا د خپلې پوهې په مصداق خپله رايه څرګنده کړېده.

د دې ټولو رايو نه يوه خبره دا څرګندېږي چې ادب او ټولنه په يو او بل زوره اغېزه لري، په نړۍ کې د ادب او سماج په يو بل د زورې اغېزې په نتيجه کې تاريخ ګواه دی چې لوی لوی انقلابونه،ټولنيز او جغرافيايي بدلونونه راغلي دي، د کومې ټولنې چې د تخليق او قاري په منځ کې د پوهې واټن(فاصله) ختمه شويده،هلته د ادب له لارې ټولنيز بدلونونه حتماً رامنځته شويدي، په نورو ټکيو کې به ووايو چې کله ليک او تخليق د ولسي ذهن سره ملګری شي هلته د قامي او ټولنيز بدلون لپاره منظم غورځنګونه راپيدا کيږي، متأسفانه پښتنه ټولنه د ادب د دغه قدر نه بې برخې پاتې شويده.

که چېرته لیک او تخلیق په مانا،منشا او مدعا پوهه شي بیا که چېرته ټولنیز ذهن ځای په ځای د لیک او تخلیق مانا،منشا او مدعا ته رسیدلی هم دی،بیا هم داسې لیک او تخلیق ته رسیدلی دی چې د قام او ټولنې لپاره یې د زهرو کردار لوبولی دی، روڼ مثال یې په پښتون افغان وطن کې د څو لسیزو نه هغه لیکلی شوی او تخلیق شوی ادب دی چې د ورور وژنې پیغام به یې درلوده و دغه ادب ته مونږ ورور وژنه ادب هم ووایو بده به نه وي، تر اوسه پښتو ادب پدې ندی توانېدلی چې په مجموعي ډول قامي او ټولنیز ذهنونو باندې اغېزه وکړي، لامل یې دا دی چې زمونږ شعر د قام د اجتماعي نفسیاتو ترجماني نکوي، په لاره کې پروت کاڼي ته که څوک ورتیښ نشو او له لارې یې څنک ته نکړ نو حتماً به د یو نوک پرې ولګي، د پښتنو ولسي ذهنونه هم هو باهو په لاره کې د بې مقصده پرتو کاڼو په خبر دي، که د پښتو ژبې لیکوالان د دوی د ذهني سطحې د راپورته کولو لپاره خپل لیک او تخلیق د دوی د پوهې مطابق ونکړي، زما په خیال زمونږ ادب به هېڅ قامي بدلون رامنځته نکړي.

په کار ده چې پښتون لیکوال داسې لیک او تخلیق وکړي چې قامي ولسي ذهن د قامي سیاسي،تاریخي او وطني شعور سره اشنا کړي، پخپل لیک او تخلیق کې د داسې موضوعاتو ته ځای ورکړي چې د قاري او سامع ذهن ورته بې له څه ستونزې ورسیږي.

د پښتون افغان وطن ننني مجموعي ستونزې د لمر په خبر روښانه دي، د نړیوالو او زورواکانو لخوا په پښتون افغان وطن کې د زور ازمایلو له امله زمونږ په وطن کښې د اور لمبې بلیږي، د سیمې د متعصبو قامونو

لخوا د زهرجنې پروپېګنډې له وجې پښتانه په ورور وژنه لګیا دي، باید پښتون لیکوال خپل لیک او تخلیق کې داسې موضوعاتو ته ځای ورکړي چې د ورور وژنې پر ځای ورور پالنه وي، دسیمې متعصبو قامونو،د نړیوالو زورواکانو خلاف ذهني،نفسیاتي او شعوري مزاحمتي رویه موجوده وي، د ګیلامن وزیر شاعري که څه هم د فن او هنر لړې ډېرې نیمګړتیاوې لري د شعري نزاکتونو،دتشبیهاتي،استغارتي نظام د روایت خیال یې ندی ساتلی،مګر په پښتون افغان وطن کې د روانو ځورونکیو، بوګنوونکیو حالاتو په نزاکتونویې څرګنده او بربنډه تجزیه، تبصره او تنقید کړیدی. د شعر مجموعي مزاج یې ولسي دی چې د ولس د مجموعي نفسیاتو سره یې پیوست کړیدی، د ګیلامن وزیر شاعري د پښتون زغورنې غورځنګ د هغه بیانیې عکس دی چې پښتنو ځوانانو د نړیوالو زورواکانو او د سیمې متعصبو قامونو د جبر،تشدد او لاقانونیت خلاف د سرونو د ورکولو په بدل رامنځته کړیدی.

د تحریکونو د مطالعې په دوران کې مونږ دا نقطه په شدت سره محسوس کړیده چې د هر یو قامي،ولسي او سماجي پاڅون سره د یو پیاوړي ځواک په څېر فنون لطیفه هم خپل رول لوبوي، تخلیق کاران انځورونه،مجسمې،شعرونه په داسې ډول تخلیق کوي چې د تحریک د اساسي بیانیې سره هم اهنګ وي، له نبکه مرغه د پښتون ژغورنې غورځنګ د رامنځته کیدو سره هم پښتنو تخلیقکارانو خپل تخلیقي منصب ته پوره مسؤلیت خپله ملا تړلي ده.

گیلامن وزیر هم په هغو تخلیقکارانو کې دی چې خپلې قامي مبارزې ته یې له زړه نه کار ویلی دی، د قلم د نوکې نه یې نښتر جوړ کړیدی او د غاصبگرو د پروپېګنډې د منحوسې بلا سینه ورڅېرې.

گیلامن وزیر که د ادبي روایاتو،د شعري هنرونو مطالعه وکړې، بیا مونږ بلا تردد ویلی شو چې ښاغلی به یو وخت تر دې هم څو چنده ښکلي شاعري وکړي، د سپېځلي غدار ته ډالۍ نومي نظم څه برخه یې دلته رانقل کوم، تاسو او اویا کاله برباد شومه: پدې هیله سره پرېږدم چې و یې لولئ!

سپېځلي غدار ته ډالۍ!
سلامونه د زندان خوږه ملګریه!
د هر درد او د سلګو بلا د واخلم
په لېمو دې ښکولومه مړوندونه
د ځنځیر او زولنو بلا دې واخلم
ته د دې و یده ملت د ننګ تصویر یې
د تاریخ د یوه نوي باب کیسه شوې
تا مو وینې په رګونو کې تودې کړې
ته د عشق د یو خواږه کتاب کیسه وې
د پښتون افغان وطن د تلپاتې سولې په هیله
دیدار"وزیر"
پښتانه مترقي لیکوال امارات ۱۰/۸/۲۰۱۹

آریان پښتو کتابتون
ARYAN PASHTO LIBRARY
+971501455350
CamScanner

# د پښتني حماسي ادب پر هسک یو بل ستوري په ځلیدو دی

لکه د نړۍ یو شمېر نور قومونه پښتانه هم تل ډېری وخت له سترو نه پرتله کېدونکو نابرابریو،ظلمونو،تاړاکونو او ان نسل وژنې سره مخ شویدي.
که له مقدوني سکندر،هلاکو،عربو،مغلو،گورگینیانو څخه رسا نن ورځې ته راشو وبه گورو چې په مختلفو ډولونو کله د دین او مذهب په نامه،کله د سیاسي نه همغږۍ په پلمه او کله هم د قومي او ژبني توپیر له لارې د دغه قوم د ځپلو هڅې شویدي. لنډه دا چې پردیو تل دا هڅې کړې تر څو دا قوم په یو نه یو ډول د خان غلام او یا هم لږ تر لږه خپل پلانونه او نظرونه پرې ومني.
خو د پښتون قوم له ښه شامته پدې کهول کې تل داسې زمري پیدا شوي چې هر غلیم ته یې د سر په کاسه کې اوبه ورکړیدي،د دغه باتور قوم هر غړي د غلیم سره د مقاومت لپاره خپله خپله لاره غوره کړیده.
چا د مبارزې لپاره سیاسي لارو چارو ته مخه کړې، څوک د جگړې په گرم سنگر کې پنجې نرموي،ځینې بیا د ټولنیزو رسنیو له لارې د ظلم په وړاندې خپل غږونه پورته کوي او یو شمېر نور بیا پخپلو حماسي ویناوو او نظمونو د غلیم سره د مقاومت ټول سنگرونه تاوده ساتي.
په لره پښتونخوا کې هم تل شاعرانو د ازادۍ سندرې او ترانې ویلي دي او لر پښتانه د حماسي نظمونو په ویلو کې پوره لاس لري یو له هغو د پښتو ژبې ځوان شاعر ښاغلی گیلامن وزیر دی.

CS CamScanner

ار نوم یې حضرت نعیم غیرت دی په ۱۹۹۴ زېږدیز کال کې د شمالي وزیرستان په رزمک کې زېږیدلی دی. ښاغلي گیلامن وزیر لومړنۍ زده کړې کړیدي، گیلامن صیب لا ځوان دی خو د ژبې فصاحت او د منطق پوخوالی یې د هر افغان لپاره ویاړ دی د گیلامن وزیر د تخلیق ډېره برخه حماسي،مقاومتي او انتقادي شعرونه جوړوي.

د ښاغلي گیلامن صیب یوه بله ځانگړنه دا ده چې ډیری خپل شعرونه له یاده هم ویلی شي چې لدې کبله یې د افغان ځوانانو مجلسونه او ناستې ښه گرم ساتلي او د هغوی په زړونو کې یې ځای موندلی دی.

ښاغلی گیلامن وزیر د لوړ موړال درلودونکی زړور ځوان دی چې خپل نظریات په زغرده او بې له وېرې او ترهې د پښتون قوم د مبرځمنو غوړونو ته رسوي د پښتونخوا پر خاوره د نوي ازادي غوښتونکي حرکت(پښتون ژغورنې غورځنگ) له پیاوړیو غړیو څخه دی او د حرکت د موخو د تحقق لپاره نه ستړي کیدونکي هلې ځلې یې د ځانگړي قدر وړ دي.

په پښتون قوم کې د دغسې پیاوړیو ځوانانو شتون موږ د افغان ملت پر ښه او نېکمرغه راتلونکي باوري کوي. نور نو د لوستونکي وخت نه نیسم او د ښاغلي گیلامن وزیر د شعرونو لوستلو ته یې رابولم. باوري یم چې هر لوستونکی به د خپل هنري ذوق سره سم د ځان لپاره یو څه پکې ومومي.

په تووله پښتنه مینه

د سنگت پتربورگ د افغانانو د ادبي او فرهنگي ټولنې مشر

انجینر سیدالله "تنی"

# خپلې خبرې

**ګرانو او درنو لوستونکو!**

**تاسې ته به معلومه وي چې زه د شمالي وزیرستان دوسلي تحصیل سب ډیویژن رزمک غرنی. سیمې یو ولسي شاعر یمه، مخکې لدې چې مزاحمتي ادب ته مخه کړم په سیمه کې به مې د ښادۍ په مجلسونو کې د سیمې له ځوانانو سره د لغاتو مقابلې کولې، د مزاحمتي ادب شاعري مې پر شمالي وزیرستان د پاکستاني پوځ د ۲۱۰۴ م کال دضرب عضب عملیاتو همزولې ده،خو د سرو شونډو،ببزوان،ګودر او منګي سره مې هغه ورځ مخه ښه وکړه په کومه ورځ چې د منظور احمد"پشتین" تر مشرۍ لاندې د پښتون ژغورنې غورځنګ رامنځته شو، زیات کوښښ کوم چې پخپله شاعرۍ کې سرو شونډو،ببزوان،ګودر او منګي ته ځای ورنکړم، ځکه نن ورځ پښتون لر او بر پخپلو وینو کې لت پت او د نامعلوم جُرم پر اساس د معلوم دښمن لخوا سزا ورکول کیږي،نن ورځ نه یوازې زما بلکې د هر پښتون شاعر او لیکوال مسؤلیت جوړیږي چې د شعر او لیکنو په ذریعه دغه ځوریدلي قوم ویښتیا،روښانتیا او مثبت بدلون ته راوبولي تر څو پښتانه نور په ریښتیني ډول د غفلت له خوبه پاځي، خپل دوست او دښمن وپېژني، دمعلوم دښمن لاس ونیسي او له لاس نه یې د پښتون په وینو لړلي سره توره وغورځوي، نور خپلې خبرې نه اوږدوم په اخر کې د پښتون ژغورنې غورځنګ له تکړه او فعال ملګري ښاغلي**

میرویس احمدزي "وزیري" زیاته شکریه ادا کوم چې بنده یې د کتاب چاپ ته وهخاوه، نن ورځ د ده د هڅو برکت دی چې اویا کاله برباد شومه شعري مجموعه ستاسو په لاس کې ده،د سیمې په کچه د پېژندل شوي لیکوال او شاعر ښاغلي عبدالغفور "لېوال" صیب زیات ممنون یم چې زما پر ماته گوډه شاعرۍ یې ښکلې سریزه ولیکله همدارنگه په عربي متحده اماراتو کې د پښتانه مترقي لیکوال د خلیدونکي ستوري ښاغلي دیدار "وزیر" او د روسیې په سنگت پتربورگ کې د افغانانو د ادبي او فرهنگي ټولنې مشر ښاغلي انجینر سیدالله "تنې" زیاته شکریه ادا کوم چې سره له زیاتو مصروفیتونو یې زما د ماتې گوډې شاعرۍ لوستلو ته وخت ورکړ او پر شعري مجموعه یې خپل نظریات ولیکل، هیله مند یم چې اویا کاله برباد شومه شعري مجموعه په ریښتیني ډول د پښتون قوم د ویښتیا،روښانتیا او مثبت بدلون سبب وگرځي.

په درنښت

گیلامن "وزیر"

بحرېن د پردېسی ماښام

۲۰۱۹/ د اگست ۱۹مه

CS CamScanner

# اویا کاله برباد شومه

چې زه په اتفاق او اتحاد شومه ملګرو
نو راء شوم، اوس دې اوس شومه موساد شومه ملګرو
اخر زمونږ په وینو دا سرې کله مړیږي
اویا کاله تباه شومه برباد شومه ملګرو
پیدا چې یم پدې خاوره ما ښه ورځ پیدا نکړه
بس تش د زنده باد او مرده باد شومه ملګرو
چې امن وو غدار وم،شرپسند وم،ترهګر وم
چې جنګ شو په بارډر بیا ورته یاد شومه ملګرو
کور ته په جرګه ورغلم بیا مې فریاد نه اورې
را تاو یې په لاهور، اسلام اباد شومه ملګرو
نور تنګ یمه مجبور یمه د ځان تپوس کومه
نور سترې په ژړا او په فریاد شومه ملګرو
"وزیره ګیلامنه" زه ترې سل ځله قربان شوم
خو بیا هم د هغه په خوله فساد شومه ملګرو

## د جنت ژمنه

دا درسره کړي کوم مُلا د جنت ژمنه ده
دا خو جهاد ندی،اشنا دا خو ورور وژنه ده
دلته یو گلخان دی،دکشمیر جنگ ته تېر وهي
خپله مور یې ناسته په خېمه کې بې وطنه ده
ندي دا دروغ چې ریاست د مور مثال لري
اوف بیا پښتنو ته څنگه خپله مور دښمنه ده
هر قوت چې وغواړي هم مړیې کړي هم پړ یې کړي
توره د پښتون د ترهگر په نوم لمنه ده
اې خلکو قسم دی چې منظور له چا هېڅ نه غواړي
صرف یې د امن خپل ولس لره غوښتنه ده
مونږه را اوچت کړو په دنیا مونږ یې کړو در په در
اې پښتنو دا دې شنه او سپین بیرغ مننه ده
ځان په حقه وژني تور ته تور او سپین ته سپین وایي
څکه زمانه د "گیلامن" نه گیله منه ده

## د مهمندو ملالۍ ته

په پنجابه وه دې لیدو زور د پښتنې پېغلې
هېڅوک ماتوی نشي غرور د پښتنې پېغلې
دغه دې چې یاد وي وه تور مخیه دا یقین لرم
بیا به سپک ونه ګورې پر لور دپښتنې پېغلې
هغه د میوند وه دا ملاله د مهمندو ده
نه پرېږدي پردي دا دی دستور د پښتنې پېغلې
تا څه وېل چې زه به په ډاډه زړه پکې وګرځم
شوې پکې مردار دا دی دستور د پښتنې پېغلې
ګوره "ګیلامنه" لدې سپې دې نور عبرت واخلي
نن چې په ګوزار شولو نسکور د پښتنې پېغلې

## تورمخیه

ووایه ښنګه دې د ټرمپ ډالر خوړل تورمخیه
ښنګه دې خپل خلک د بل په خوله وژل تورمخیه
اسلام خو پربېږده دا په کُفر کې هم ندي جایز
توبه ژوندي ژوندي سړي د خرڅول تورمخیه
زمونږ د کور لوښي،کودي،ټایرن،ګاډر دې پټ کړل
د څوکیدار جي په جامه کې یې شین غل تورمخیه
ته دې ډالر د نشې دومره کړې پاګل تورمخیه
هر څه د هېر وو نه په ځان وې نه په بل تورمخیه
ګنې ستا دا خیال وو چې دوی به بدل نه اخلي
چې پښتانه دې بې ګناه ازارول تورمخیه
اوس ډېره ګرانه ده چې ته د پښتون لاره نیسې
سره راټول شول له اټک نه تر کابل تورمخیه
ستا په هر ظلم به ګواه وي تر قیامته پورې
دې"ګیلامن وزیر" شعرونه او غزل تورمخیه

## گلخانه

گلخانه! زه یې نه منمه دا څوکیدار غل دی
زما فکر خوشحال دی، دې ده فکر د مغل دی
ایمان به څنګه تېر کړې ته په زېړو ورته ګورې
دا ستا په کلي،کور او په عزت یې جوړ غوبل دی
زما فکر خراب دی، که دا وخت دومره بدرنګ دی
چې کړی ګیدړانو په زمرو باندې یرغل دی
اې دا مو د اسلام او د پښتون وطن دښمن دی
هم دوی دی نړولی پېښور دی که کابل دی
خر هغه دی خو کته یې بدله ده ملګرو
دا مونږ ته پاتې شوی دې ایپي فقیر متل دی
اې راشه دا ټوپک کېږده خپل ورور درباندې وژني
په خدای که دا جهاد وي، دا ټول ما او تاته چل دی
چې کوم مُلا په چا باندې فتوه د جهاد ور وه
نن هغه مُلاجان هم د هغو د لارې مل دی
دا نن چې ماته وایي چې غدار یې شرپسند یې
منم خوله مې د ورور ده، خو اواز پکې دې بل دی
پروا مه کوه حق ته به حق وایې"ګیلامنه"
هېڅوک هم ندی خلاص چې پوره شوی یې اجل دی

## باجوه له

جبل،مرګ ته د اختر غونډې سینګار کومه باجوه
د ظلم خلاف غږ دې ښه په جار کومه باجوه
دا زه چې ستا په توره خوله غدار ابجنټ یادېږم
قسم په خدای پدې زه افتخار کومه باجوه
نړۍ ته به دا ښایم چې اصلي ترهګر څوک دی
لګیا یم ښه په شوق دا کاروبار کومه باجوه
اې ته چې په لاهور کېنې د هندوانو مېتهایي خورې
نو زه به څنګ له لر او بر انکار کومه باجوه
افغان وم،افغان یم،افغان به مرمه دا مې واوره
دا نن درته په سپین ډګر اقرار کومه باجوه
چې کوم دروغ دي ستا پدې مطالعه پاکستان کې
ګلخان نه یم پدې چې اعتبار کومه باجوه
پینځه وخته لمانځه کې رانه هېر نه یې زړه مه خوره
چې تاته پګې خامخا ازار کومه باجوه
منم چې نور څه وس د"ګیلامن اسدخېل"نشته
په شعر او شاعرۍ به دې سم کار کومه باجوه

## باچاخان په زولنو کې

قید کړی وو تورمخو باچاخان په زولنو کې
عادت دي دې پښتون قام اتلان په زولنو کې
په خدایه مونږ بې وسه یو ته قهر پرې نازل کړه
دوی بند کړل ستا د پاک دین عالمان په زولنو کې
پنجاب بند کړل زمونږه بوډاګان په زولنو کې
ځوانان په زولنو کې،ماشومان په زولنو کې
بادار ته به تسلیم نشم ذهني غلامي نکړم
وجود مې دې ایرې شي دې زندان په زولنو کې
ازاد ژوند خو ګیدړ کوي ګلخانه شین ګیدړ یې
که سوچ دې وي تړي خلک زمریان په زولنو کې
د حق د ازادۍ چیغې به پرېنږدي تر مرګه
که ټول عمر بندي شي"ګیلامان" په زولنو کې

# په کیسو نشي

په کیسو نشي په تلي به ورته ړدو سرونه
د غلامۍ له غړوندو چې خلاصوو سرونه
تاریخ گواه دی،بې له خدای چاته ټیټ شوي ندي
د ننگیالیو، مېړانیو پښتنو سرونه
دا خپل حقوق او ازادي پر موږ تر هغې قسم
زما ملگرو چې تر څو موږ صرفوو سرونه
د دې دوه مخو مشرانو سره نه خوري سمون
دغو عبث دي درانه کړي په شملو سرونه
مونږه وطن گټو،سرهم ساتو نه داسې نشي
چې خپلواکي غواړو ضرور به ماتوو سرونه
پښتون احساس په دوی کې نشته مطمئن دې اوسي
خلاصیږي نه د گلخانانو بې مغزو سرونه
حوصلې مه ماتوئ اې ملگرو دا متل دی
پر سر یې لار وي که هر څو لوړ وي د غرو سرونه
چې د افغان له نوم منکر وي، د خوشحال په توره
اې"گیلامنه" له هغو به غوڅوو سرونه

## غل بدنام شو

پرون يې زه بدناملم خو نن خپل بدنام شو
چا چې له خپله كوره غلا كړه هغه غل بدنام شو
نارې پرې وشوې له آټكه تر كابله پورې
هغه تورمخى سړى څوک وو، مكمل بدنام شو
خدايه! هغه خلک رسوا غواړو په درست جهان كې
دې چا په خوله چې د پښتون د شملې گل بدنام شو
چا چې زمونږه خويندې كونډې،مېندې بورې كړلې
اې"گيلامنه"د هغو د لارې مل بدنام شو

# باجوه او اصف غفوره

کم ستر ناري وهي په زوره زوره دهشتګرد يې
اې باجوه دهشتګرد يې وه غفوره دهشتګرد يې
تا ټول عمر زمونږ په وينو کړی تجارت دی
څه بل ډول بې پلاره او بې موره دهشتګرد يې
"وزير ګيلامان" وايم چې خطا شوې په ډالرو
لنګماره ياره خومره بې شعوره دهشتګرد يې

CS CamScanner

## یه جو دهشتگردي هې اُس کې پیچې وردي هې

دنیا ته شوه ښکاره چې چېرته هم دهشتگردي ده
د دې شاته وردي ده
چې چېرته هم زمونږ په خاوره جنگ دی بربادي ده
د دې شاته وردي ده
دا نن چې په پیسو باندې خرڅېږي زمونږ وینه
ارزانه ده په هرځای کې توئېږي زمونږ وینه
چې چېرته اور بل شوی په پښتون په بلوچي ده
د دې شاته وردي ده
ویده پښتونه اوس شه رابیدار د خدای لپاره
نور ببله کړه له دغو بازار خلکو نه لاره
پدې جنگ کې جنت نشته ټول چل دی او ټگي ده
د دې شاته وردي ده
لاسونه د پښتون ببگاه،سبا په وینو سره وي
ما ستا په وینو سره وي،تا زما په وینو سره وي
دعوت هم درکوي چې بس پدې کې کامیابي ده
د دې شاته وردي ده
دربورته کړه ایمان د باچاخان په لاره لاړ شه
بچی یې د پښتون میرویس خان په لاره لاړ شه

ساده پښتونه پاخه بس پدې کې ازادي ده
د دې شاته وردي ده
په هر خاى كې قتلېږو مونږ عوام ښكاري كفار يو
"وزیره گیلامنه"چې خپل حق غواړو غدار يو
راكوز دى له اسمانه كه طالب دى كه فوجي ده
د دې شاته وردي ده

CamScanner

## افغانیت

په افغانیت خو د لنگمار ټېکنالوجي گواه ده
میزائیل غوري، غزنوي او ابدالي گواه ده
بس زه چې ځانته افغان وایمه غدار مې بولي
گني زما په افغانیت یې اسمبلي گواه ده
نمک حرام زه او که ته یې قضاوت دې وشي
زما میوند ستا د لاهور هیرامنډي گواه ده
زما د پلار نیکه تاریخ خو په ډهلي گواه ده
خو دبنگال څمکه دا ستا په بې ننگي گواه ده
ماته ابجنټ مه وایه زه د ډالر شوق نلرم
ستا د ډالرو په شوق آفیه صدیقي گواه ده
په ما فتوا د جهاد مه ورکوه اې تورمخیه
ته مسلمان چا کړلې ستا مسلماني گواه ده
په پښتو مړ دی،سپیناوي ته هېڅ اړتیا نلري
د"گیلامن"مبارزه او شاعري گواه ده

## ننبانه د ترهگرهم زه يم

ترهگر زه يم، ننبانه د ترهگر هم زه يم
مردار هم زه يم، شهيد زه يم، در په در هم زه يم
قاتل،مقتول زه يم او كور كلى زما ورانيږي
پخپل وطن كې متأثر او مهاجر هم زه يم
توره،ټوپک،چاړه زما په لاس مرى زما ده
جاسوس هم زه يم،مورچه زه يم او سنگر هم زه يم
ټوله نړۍ مې لوبوي خو په ځان نه پوهېږم
القاعده زه، اسامه زه، ملا عمر هم زه يم
پخپله گرم يمه د ځان پور به له چانه غواړم
د خپلو وينو مې پخپله سوداگر هم زه يم
اې "گيلامنه اسدخېله" ډېر ساده پښتون يم
بې ننگه زه،بې وقوف زه،نر بهادر هم زه يم

## منظور پشتین ته

ملنګ سړي يې باچاهان درته چکچکې وهي
لالیه ډېر ډېر مغروران درته چکچکې وهي
سترګې يې ډکې وي له اوښکو خوچې ستا غږ واوري
د وطن کونډې، يتيمان درته چکچکې وهي
ښکاره له وېرې ويلی نشي خو قسم ومنه
په زړه کې پټې ګلخانان درته چکچکې وهي
چې ستا په خوله سپينې کيسې وي که يې سر هم پرې شي
په هر محفل به ګيلامان درته چکچکې وهي

# سپېڅلي غدار ته ډالۍ

سلامونه د زندان خواږه ملګریه!
د هر درد او د سلګو بلا د واخلم
په لبمو د ښکولومه مړوندونه
د ځنځیر او زولنو بلا د واخلم
ته د دې ویده ملت د ننګ تصویر یې
د تاریخ د یوه نوي باب کیسه شوې
تا مو وینې په رګونو کې تودې کړې
ته دعشق د یوه خواږه کتاب کیسه شوې
د ولس په دعاګانو کې یادېږې
د وطن د هر مظلوم د زړه ټکور یې
د بې وسه کونډو، بورو، یتیمانو
هیله،تمه د زړه سر د سترګو تور یې
هره پېغله، هر زلمی درباندې ویاړي
د ستا ننګ او ستا غیرت ته موسلام دی
ګیلامان وزیر دستایي په شعرونو
ستا مېړانې شجاعت ته مو سلام دی
ته اتل یې، ته اتل یې، ته اتل یې
ته اتل یې، ته اتل یې، ته اتل یې

CamScanner

## شهید طاهر داوړ ته ډالی

انسان یم خو نړۍ د ټوپک خلی رانه جوړ دی
که څوک پاتې وي راشئ نښانه راباندې زده کړئ
په نوم د ترهګر، طالب مو ډېر یم خوږولی
نو بس ځېرته په بله بهانه راباندې زده کړئ
که لا اله الله جرم وي پښتون ته
خو تاسو ځېرته بله کلیمه راباندې زده کړئ
د وینو خرخول خو مو په خاخکي، خاخکي زده کړل
لا شته پښتون یوه نوې تجربه راباندې زده کړئ
پښتون یم غلامي مې د تاریخ پاڼو کې نشته
چې څه مو راته خوښه وي هغه راباندې زده کړئ
پیدا چې یو په غم یو خوشالي او خندا څه وي
په خدای که پېژنو یې لږ خندا راباندې زده کړئ
ساده د غرو پښتون یم په ساده کیسه پوهېږم
په زور په بات سَن په خدای که یوه راباندې زده کړئ
نقیب یم قبایل یم د ټپوس سړی مې نشته
ما ووژنئ جعلي مقابله راباندې زده کړئ
چې ټول پښتانه یو کړي دا نفاق او دا جنګ ورک کړي
مفتیانو ځېرته داسې وظیفه راباندې زده کړئ
چې لر اوبر پښتون سره یوځای کړي "ګیلامنه"
یا خدایه داسې شعر داسې ټپه راباندې زده کړئ

## د شهید ارمان لوڼي یاد

پرېږدئ چې چیغې سورې وکړمه ارمان شهید دی
د لر او بر پښتون افغان ولس ارمان شهید دی
ټوله فضاء ده خړه پړه خه غمګین ماښام دی
نن د وطن د ملالۍ پېغلې پېزوان شهید دی
صرف دا نده چې بس وړانګه خور بې وروره شوله
اې نن د ټولو پښتنو خویندو ورورجان شهید دی
د هر مظلوم له خولې نه چیغې فریادونه خیژي
د ځوریدلیو پښتنو د زړو درمان شهید دی
تاریخ یې لیکئ د وطن په هر یو کاڼي، بوټي
پښتنو وروڼو دا د لوی افغانستان شهید دی
لالیه دغه انقلاب دی زړه به نه ماتوې
یوه ورځ به داسې شې خبر چې"گیلامان" شهید دی

## لر او بر یو افغان

د دوارو حاجت مند یم یو مې زړه دی بل مې ځان دی
که ګران وزیرستان دی او که ګران افغانستان دی
که لر دی او که بر دی ورونو یو پښتونستان دی
یو ننګ،یوه موزبه،یو رواج یو مو ایمان دی
خو نن په اشارو د بل خپل سر په کانو ولو
لر بر په کاڼو ولو او بر لر په کاڼو ولو
هیڅ فرق مه پکې بولئ پښتون یو د لر او بر دی
که سوات،که کابل جان که کندهار که پېښور دی
چې نوم یې دپښتون وي زما ځان زما ځیګر دی
چې ژبه یې پښتو وي زما سترګې او نظر دی
راځئ پښتنو ورونو چې یو لاس شو یو لښکر شو
دښمن ته چې شکست ورکړو چې یوځای لر او بر شو
تر کومه به پخپل منځ کې جنګېږو او ژوبلېږو
چې چېرته اور بل شویدی نو مونږ پکې سوځېږو
ویده یو د غفلت په خوب چې کله به ویښیږو
په خوله مونږ تش-هسې بس د یوبل نه ځارېږو
چې کوم محفل ته لاړ شې په یو بل پسې غیبت دی
په خوله دعوې د مینې کړو په زړو کې مو نفرت دی
چې زه پښتون یم،ته پښتون یې راشه چې یو ځای شو
ټینګ لاس د ورورۍ راکړه را پخلا شه چې یوځای شو

تر خو به په ناحقه تویوو د یو بل وینه
جوړ شوي سوداګر یو،خرخوو د یوبل وینه
جهان ورته یو شوی پښتون هرځای په نمبر مري
لر بر په شمالي په کابل جان په پېښور مري
د دین په سر بدنام شول په نامه د ترهګر مري
ځوک مري په دهماکه،ځوک په ټوپک ځوک په خنجر مري
ځوک جوړ ورته کافر کړي،ځوک طالب شي په سنګر مري
دا ولې یو پښتون د بل د لاسه په ډالر مري
د دین په مدرسو کې مو بچیان سینې پرهر مري
جهان وریورې خاندي پښتانه پرسمه غر مري
زما د جماعت امام دپاسه په ممبر مري
بس پېغلې ملالۍ مو ډلې ډلې پر ګودر مري
لاسونه دپښتون سبا بېګاه په وینو سره وي
ما ستا په وینو سره وي تا زما په وینو سره وي
راځئ دپښتانه او فارسیوان کیسې به پرېږدو
چې ګټې لاسته راوړو د تاوان کیسې به پرېږدو
چې نوی تاریخ جوړ کړو ته مې ورور زه به د ورور شم
اې ته مې د زړه سر شه زه به ستا د سترګو تور شم
تر څو به د ملنګ غوندې په یو بل در ګرځېږې
اخر وایه تر کومه به د مال په خبر خرڅېږې
پښتونه لږ خو فکر وکړه خانته بربادېږې
راویښ شه دوست دښمن درته ښکاره شو که پوهېږې

توپک یې لاس کې درکړو ما په تا،تا په ما وژني
تیارې راخورويې زمونږ په منځ کې رڼا وژني
بیدار شه اې پښتونه لږ د ځان تاریخ تازه کړه
جذبه د راژوندې کړه د ایمان تاریخ تازه کړه
محمود غزنوي د خوشحال خان تاریخ تازه کړه
لږ بیا د میرزاعلي د میرویس خان تاریخ تازه کړه
د وخت دې ظالمانو ته عمر له ځانه جوړ کړه
د پلار نیکه پشانې بهادر له ځانه جوړ کړه
ته فکر وکړه ټوله پښتونخوا لمبه لمبه ده
په ځان نه یو خبر چې مونږه څه کړې خطا ده
هر ځای پښتنه پېغله مهاجره په بېدیا ده
یو خدای رسول منو بل په قران مو عقیده ده
بس څکه نړیدلې په بارود هر کوڅه ده
زمونږ له پښتانو نه هر ځای ډکه جبلخانه ده
بچیان ترهگر بولئ دا په کوم کتاب روا ده
مسلم یمه زما د ملک نامه خو کلیمه ده
"وزیره گیلامنه" دا دې کوم جُرم سزا ده
چې فکر ځانته نکړې اسدخېله بربادېږې
تر کومه به د بل په اشارو باندې غولېږې!

## غمجن یمه

ستا په ببلتون دومره غمجن یمه چې حد نلري
په ماشوم زړه داسې خوږمن یمه چې حد نلري
د ډیورنډ کرښې،اغزن تار له منځه تلو لپاره
بې وسې دومره ارمانجن یمه چې حد نلري
که یې په مینه کې پر دار شمه پروا مې نشته
پر پښتون قام دومره مئین یمه چې حد نلري
د پښتنو پرقتل عام خاموش ملک او مُلا
له تاسو دومره گیلامن یمه چې حد نلري
د باچاخان امر ماتیږي گني رب گواه دی
نور دومره تنگ له تور دښمن یمه چې حد نلري
په کرغیړنو او اغزنو کرښو ببله یاره
دومره د تږې د دیدن یمه چې حد نلري
کله مهاجر شمه او کله ترهگر غدار
دومره ذلیل پخپل وطن یمه چې حد نلري
د پښتنو عزت لوټ کیږي زه خاموش ناست یمه
زه"گیلامن" دومره ډارن یمه چې حد نلري

## نه شرمېږې

د خویندو او د میندو د سلگو نه نه شرمېږې
چې بلې د پر کور دي له لمبو نه نه شرمېږې
ستا هره ورځ دوه درې ماشومان الوځي په بم
نه ته د هغو پرې پرې پښو لاسو نه نه شرمېږې
ته نر ځېه خوله ناست یې ستا حق وړانګه،ثناء غواړې
رښتیا وایه لدغو جیناکو نه نه شرمېږې
عبث د اوږده کړیدي بس ځان د پرې ببر دی
د خپلې ځنو، ږیرې او برېتو نه نه شرمېږې
راوړې یې تصویرونه ماشومان هرې جلسې ته
، هغو ورکو وروڼو پښتنو نه نه شرمېږې
هارون بلور،طاهر داوړ،مشال د خنگه هېر کړل
بې ننگه د نقیب له پرهرو نه نه شرمېږې
وهې دې ماشومان پکې د زمي بارانونه
اې ته د بکاخېل کېمپ له خېمو نه نه شرمېږې
چې لاندې تر دېوال شول قرانونه،کتابونه
د ورانو مدرسو او مسجدو نه نه شرمېږې
به تا کې نه غیرت شته،نه پښتو اصل گلخان یې
چې ته د"گیلامن" له پیغورو نه نه شرمېږې

## منظورخاني پکار ده

نه محلونه غواړو
نه مو بنگلې پکار دي
نه باچاهي غواړو موږ
نه موپیسې پکار دي
د غلامۍ له ځنځیرو نه ازادي پکار ده
بس نور افغانیت پکار دی منظورخاني پکار ده
نوی بدلون به راځي
د پښتنو پر خاوره
امن سکون به راځي
د پښتنو پر خاوره
خو په ځوانانو کې جذبه انقلابي پکار ده
بس نور افغانیت پکار دی منظورخاني پکار ده
که ډېر خواره خلک یو
خو بیا تراخه یادېږو
د ترهگر په نامه
واړه زاړه یادېږو
زموږ له لمنو نه د دې داغ صفايي پکار ده
بس نور افغانیت پکار دی منظورخاني پکار ده
د یو نیکه اولاد یو

کړو په یو بل ننګونه
دښمن به ډېر خواره کړي
منځ کې اغزن تارونه
د لر او بر ناره په خوله د هر سړي پکار ده
بس نور افغانیت پکار دی منظورخاني پکار ده
بس "ګیلامن وزیره"
د شنوبنګړو وخت تېر دی
نور سره لُبان مه ستایه
د شنو خالو وخت تېر دی
پښتون ولس ته له ننګ ډکه شاعري پکار ده
بس نور افغانیت پکار دی منظورخاني پکار ده

CS CamScanner

# وایه ښه پښتو او ښه به یې ایمان شي

وایه ښه پښتو او ښه به یې ایمان شي
چې د ورور پر ضد له بل سره روان شي
خوک چې سر لکه منظور پر وطن شیندي
نو هغه سړی د ټول ولس جانان شي
چې له مار نه زهر وباسې ماهي شي
له پښتون نه چې ننګ اوباسې ګلخان شي
د دښمن پر غوږ د تندر پشان لګي
چې ناره چېرته د لر او بر افغان شي
د بستر له مرګ نه سل ځله بهتر دی
کوم سړی چې د وطن په نوم قربان شي
ته چې ځان ازادوې تکلیف به زغمې
دا متل شوی چې ګټې پر تاوان شي
د افغان په ننګ خو ځکه ترم توره
راتازه چې بیا تاریخ د خوشحال. خان شي
چې لر بر پښتانه یو شي"ګیلامنه"
بس پوره به مې د ټول عمر ارمان شي

## افغانان مه وژنه

ظالمه بس کړه افغانان مه وژنه
د بل په خوله باندې خپل ځان مه وژنه
دا کوم کتاب دغه فتوا درکوي
په نوم د کفر مسلمان مه وژنه
مالي نو دا څنګه ساتنه کوې
په خپل چمن کې بلبلان مه وژنه
د تور پنجاب د شاباسي لپاره
د افغانی مورکی ارمان مه وژنه
د شرپسند او ترهګر په نامه
زمونږ تور سرې ماشومان مه وژنه
هغه د ورور دی پرې نیمګړی به شې
اې پېښوره کابل جان مه وژنه
خدایه دا یو سوال بې ضرور قبول کړه
چې په بې ننګ مرګ"ګیلامان"مه وژنه

## عالمزېب ته

چې وې به په کوم حال له گل نازکه عالمزېبه
د ورکو پښتنو په غم کې ورکه عالمزېبه
د تور شیطان دې توره خبره وښوده نړۍ ته
په تورو خنځیرو کې بند یې څکه عالمزېبه
قربان د اسدخېلو"گیلامن"درباندې وپاړم
د ټولو پښتنو د زړه ملکه عالمزېبه

CamScanner

## شیطان، منافق

ښه یې وینې خو په قصد کوې شیطان دی منافق دی
مور قتلېږو دی خاموش دی، عمران خان دی منافق دی
د پښتون پر پرهر مالګې دوروې په پارلمان کې
که مراد سعید که علي محمدخان دی منافق دی
چې زمونږ د پښتنو پر قتل عام باندې خاموش وي
که مُلا دی،که سرکار که عام انسان دی منافق دی
چې اوس لا هم شنه خالونه،تورې زلفې،شونډې ستايي
"ګیلامان" بیا شاعر ندی غټ بې ایمان دی منافق دی

CamScanner

## زخمي وزیرستان

په غم يې وژاړئ تو لر بر افغانان پښتانه
تپوس ته ورشئ پېښور د سوات مردان پښتانه
میدان ته اوځئ ټول واړه زاړه ځوانان پښتانه
په وینو سره دي د زخمي وزیرستان پښتانه
د خزان باد تربنه تنکي تنکي گلونه مات دي
پنجاب د پېغلو پښتنو ښې او لاسونه مات دي
اختر نړدې دی خلک نکریزې او جامې اخلي
پښتون لګیا دی د مړو ورونو جنازې اخلي
څوک وهي منډې خپل زخمي زوی ته پټې اخلي
څوک مزارونه جوړوي کولنگ بېلچې اخلي
لت پت پراته دي مات سرونه ماشومان پښتانه
په وینو سره دي د زخمي وزیرستان پښتانه
خویندې سرتور منډې وهي چې لالاجان مې مړ شو
مور ابېلې ښې منډې وهي چې الله ګران مې مړ شو
ماشومان تښتي چې جګړه ده باباجان مې مړشو
لمسي يې وير کړي چې سپين ږيرى دادا جان مې مړ شو
په وینو لت پت د حاجي میرزاعلي خان لمسي دي
ترې راچاپېر د رنجیت سنګ او چنګېزخان لمسي دي
پښتنو پاځئ په خوړمنه خور او مور ننګ وګړئ

پردې پرې کړ دې پخپل کلي او خپل کور ننګ وکړئ
تاسې یې ګورئ بل بې وژني په تربور ننګ وکړئ
پنجاب یې ویني څښې راځئ په پښتون ورور ننګ وکړئ
په اور سوځېږي لږ خو ورشئ په پُرسان پښتانه
په وینو سره دي د زخمي وزیرستان پښتانه
پښتونه مه کوه زما پر بې وسۍ مه خانده
نور بس زما د ماشومانو په سلګۍ مه خانده
نن خو پر ما ده خو سبا دا ورځ په تا رادرومي
دغه لنګمار به دې په زور په دروازه رادرومي
اې "ګیلامنه اسدخېله" بې ننګي ونکړې
پام د پښتون په نامه ننګ دې بې غوري ونکړې
چې د پښتون پر ضد د نورو ملګري ونکړې
تندي پرې مات کړه خو پنجاب ته سر ټیټي ونکړې
سره راټول دي رابیدار کړل منظورجان پښتانه
په وینو سره دي د زخمي وزیرستان پښتانه

## ماجر او دهشتگر

خوک مې متأثر بولي او خوک راته ماجر وايي
خدايه ټول جهان نن راته ولې دهشتگر وايي
ښکلی مسلمان يم هېڅ گناه په خان کې نه وينم
کړمه پرې عمل څه چې حديث د پيغمبر وايي
خوک مې اچوي زندان ته خوک مې پر بمو وژني
چا چې يم وژلی پنجابی ورته بهادر وايي
ټول پښتانه وروڼه يو لېوان يو سره يو بل ته
بر پښتانه لر وايي او لر پښتانه بر وايي
خدايه اسدخېل"گيلامان" دېر يمه حيران دېته
خوک راته دښمن وايي او خوک راته خېگر وايي

## پښتونه وروره

پښتونه وروره پښتنه پېغله يم خور دې يمه
چې در په در ګرځم سوالونه نه مې نه شرمېږې
که چېرته ننګ غيرت لرې نو نن يې وه ازمايه
له سترو سترو فریادونو نه مې نه شرمېږې
تور مخې وه ايستم له کوره ابېلې پښې لاړمه
دا په مېډيا کې تصويرونو نه مې نه شرمېږې
شاعره وروره چې ننګی،پېزوان،چارګل مې ستايې
لدې شلېدلو پرهرونو نه مې نه شرمېږې
اې"ګيلامنه اسدخېله" ډېر بې ننګه شولې
چې لدې دومره پيغورونو نه مې نه شرمېږې

## افغان یم

حق حیران .یم چې اوس خه کړم انتخاب
یو ټوپک دی او بل خوا قلم کتاب
پښتون یمه په یوه کې مې خیر نشته
هر یو پل مې دی، غذاب، غذاب، غذاب
چې نن مونږ بې گناه بې گناه وژني
دا سړی راکوي درس دې انقلاب
افغان یم په هر رنگ مې .مرگ جایز دی
که په لاس کې مې تسپې وي که رباب
تر څو به وژل کېږئ قبایلو
لږ مو وغواړئ دې وینو احتساب
"گیلامنه" که اوس چوپ شوې یاد لره
په محشر به کړې الله ته څه جواب

## منظور پښتين وايي

د بې امنۍ غر ته مې وتړله ملا له خيره
دعا کوئ ور روانېږم بسم الله له خيره
که پاتې کېږم او که مرم ور رسومه به ځان
ما ورته کړيده په زړه کې اراده له خيره
که کړلېچونه دي که ډېر ستړي مزل دی پکې
خو يوه ورځ به ورسېږم انشاءالله له خيره
چې دا سبا بېگاه ترې لوی افغانستان ډزوي
ترې رنگومه به د جنگ هغه مورچه له خيره
چې"گيلامان وزير" يې کله سرته ورسېږم
پرې لگوم د امن ښه لوړه جنډا له خيره

## د منظور تصویر ته گورمه

وینم پکې زه د یو ازاد پښتونستان انځور
ورځ کې یې دوه درې ځله ضرور تصویر ته گورمه
شي چې مازدیگر مئین تصویر دمعشوقې گورې
زه"گیلامان"هر وخت د منظور تصویر ته گورمه

## شهید نقیب الله مسید ته

په مرګ د دردېدلي دي د ټول انسانیت زړونه
د خاورو لایق نه وو ستا د تورو زلفو ولونه
"وزیر ګیلامان" وایم ستا د وینو برکت دی
نقیبه چې یوځای د کړل د لر او بر قومونه

CS CamScanner

## گران منظور پشتین ته

اخ زما ساده زما ملنګ لالی
ډک دی،له غیرت،پښتو له ننګ لالی
خکه د دښمن د سترګو خلی دی
امن غواړي ګرکه کړي له جنګ لالی
ناوې د وطن به یې په غاړه کړي
ځار یې شمه هار دی د لونګ لالی
ښکاري په لښکر کې ډېر له لیرې نه
دی لکه نښتر په ونه دنګ لالی
دا د پښتونخوا خاوره یې شمع ده
ځان پرې سوځوي لکه پتنګ لالی
دا دی په رښتیا د خوشحال خان لمسی
نه مني د تور مغل کلنګ لالی
چېرته د بې ننګه بې مانا سره سپین
چېرته دا زما تور غنم رنګ لالی
زه "کیلامان" سم ورباندې مړ یمه
وي دې د غدار په تهمت رنګ لالی

## په درتلو مې پابندي ده

زما غوږې پرېکوي په فریادو مې پابندي ده
په خوله خاندم په زړه ژاړم په سلګو مې پابندي ده
زه د وخت ذهني غلام یم چاته حال وېلی نشم
لاس مې بند،په ژبه ګونګ یم په قیصو کې پابندي ده
خدایه دا څنګه انصاف دی دا د کوم دور قانون دی
په سره اور مې سوځوي په اوښکو مې پابندي ده
"ګیلامنه اسدخېله" دیدنونه مو مشکل دي
په راتلو د پابندي ده په درتلو مې پابندي ده

## دا زه څنګه پښتون یم؟

دا زه څنګه پښتون یم او دا څنګه مسلمان یم
ملګرو په ایمان چې زه خو ډېر حٔانته خیران یم
په کور او کلي ننګ نشم کړای چې ولې يې کړو وران
نه په جومات ننګ کوم نه په مدرسه او په قران
اې ملګرو کله کله مې شک راشي په ایمان
چې پرادي بيه کوي د پښتنې پېغلې پېزوان
زه هم ټيټې سترګې ناست وم تنې شمارم د ګرېوان
په نامه د شرپسندو قتلوي رانه بچیان
هم حلال مې شول د کلي د قیصو جرګومشران
دعوه کړم چې بچی باچاخان او میرویس خان یم
دا زه څنګه پښتون یم او دا څنګه مسلمان یم
ملګرو په ایمان چې زه خو ډېر حٔانته خیران یم
زمونږ دکلي هره یوه کوځه په وینو سره ده
هر کور په لوګو تور هره حجره په وینو سره ده
جومات په لمبو وسو مدرسه په وینو سره ده
کتاب او سیپاره مو د مُلا په وینو سره ده
هر ګل په وینو سور هره باغچه په وینو سره ده
زه بیا هم نه پوهېږم چې د چا په وینو سره ده
زما لمن د ستا او ستا زما په وینو سره ده

زما لمن زما دخپل بابا په وینو سره ده
خو بیا هم کلخاني کړم د هغو په لار روان یم
دا زه ځنګه پښتون یم او دا ځنګه مسلمان یم
ملګرو په ایمان چې زه خو ډېر ځانته خیران یم
په مُلک کې د کډوال،متأثرین په نوم یادېږم
کمزوری په ایمان یم کني ښه پر ځان پوهېږم
چې زه لکه د مال په څېر په یو بل ځای خرڅېږم
د خپل کلي په لار کې لس ځلې تلاشي کېږم
پخپل شناخت نه په وطن کارډ پېژندل کېږم
په هر ځای کې قتلېږمه،سوځېږمه،ژوبلېږم
په شان د ځناورو په لینونو کې ودرېږم
په حرس یمه ډېر وږی نه مړېږم نه ډکېږم
په دوه کیلو غوړي په یوه توره باندې غولېږم
په خاوره کې پیدا د ننګیالي میرزاعلي خان یم
دا زه ځنګه پښتون یم او دا ځنګه مسلمان یم
ملګرو په ایمان چې زه خو ډېر ځانته خیران یم
وزیر، مسید، داوړه د پارټې خبره پرېږده
بس نوره د سرې،سپینې،شنې جنډې خبره پرېږده
ایمان د پکې ځې د اسمبلې خبره پرېږده
د کور غم د کوه د بادشاهې خبره پرېږده

شرمېږي په ایمان د ګلالۍ خبره پرېږده
اوسېږي په خیمه کې د بنګلې خبره پرېږده
اول چې زه، ته یو شو د هغې خبره پرېږده
اول زده کړه پښتو د پنجابۍ خبره پرېږده
له کټ نه هم پاس نه یې د ګُرسۍ خبره پرېږده
بیا مه وایه هېڅا ته چې د ګران وزیرستان یم
دا زه څنګه پښتون یم او دا څنګه مسلمان یم
ملګرو په ایمان چې زه خو ډېر ځانته خیران یم
په کور کلي مې اوري د بارودو بارانونه
روان وي هر مدام د تودو وینو سېلابونه
له هرې خوا راځي د یتیمانو فریادونه
تور سرې مو اکثر غواړي په یو بل در خیرونه
له اوښکو ډکې سترګې نیسي یو بل ته لاسونه
زه بیا هم اچوم له غمه ډول ته اتڼونه
ستایمه تورې سترګې،سره ګُبان،شینکي خالونه
چې اوس هم خلکو نه لیکم په رنګ وطن شعرونه
په کومه خوله به وایم چې شاعر زه"کیلامان"یم
دا زه څنګه پښتون یم او دا څنګه مسلمان یم
ملګرو په ایمان چې زه خو ډېر ځانته خیران یم

## گلخانه

له مرگ وېرېږې مرگ په خدای که بې اجله راځي
بې ننگه ووایه په تا کې به ننگ کله راځي
نه په وطن ننگ درځي،نه په کلي کور ننگ درځي
درته سرتوره یې کړه نه په کونډه خور ننگ درځي
په زړه سوري شوه درته نه په بوره مور ننگ درځي
درې کاله کیږي ژوندي ورک دي، نه په ورور ننگ درځي
نه د مکتب نه د جومات نه د قران په امن
نه د سپین ږیري،ماشومان نه د ځوانان په امن
ستا د مشرانو له سرونو یې شملې کوزې کړې
ستا د تور سرو له سرو نه یې بورقې کوزې کړې
ستا ماشومان یې خیراتونو ته مجبور کړل کنه
دا ستا خانان یې منتونو ته مجبور کړل کنه
ستا د وزن د مشرانو یې مرۍ غوڅې کړې
د ماشومانو او زلمیو یې پوښتۍ غوڅې کړې
نسل کشي دې شي راویښ شه کم او ستر یې مړ کړې
هغه خو خیر چې په نامه د ترهگر یې مړ کړې
خو ستا نقیب،طاهر داوړ یې په ښکاره ووژل
هارون بلور او مشال خان ووایه چا وواژل
په چا سپارې دا د تنکو تنکو ځوانانو وینې

پیغور به درکړي د وطن د شهیدانو وینې
لړ رابیدار شه،لړ راوینښ کړه خپل ضمیر بې ننګه
پخپلو لاسو د بدل کړه خپل تقدیر بې ننګه
د سوات له کونډو یتیمانو حیاء نه درغله
د کوښتې ښار له وکیلانو حیاء نه درغله
د باجوړ له حافظانو حیاء نه درغله
د آرمي سکول له شاګردانو حیاء نه درغله
چې په سرو وینو لمبېدل او قتلېدل ګلونه
ما هم تا هم لیدل چې رژېدل ګلونه
بې ننګه ووایه ایمان او غیرت څه ته وایي
سینه کې زړه لرې کنه انسانیت څه ته وایي
چې په دې دومره حادثاتو کې ویده پاتې یې
لالیه خدایګو نه ژوندي او نه د مړه پاتې یې
د قبایلو هغه خړ کورونه چا خاورې کړل
پدې مې پوه کړه اسرائیل او که انډیا خاورې کړل
ټوله فاټا کې د بارودو بارانونه وشول
په هر یو چم په هریو غولي د ویرونه وشول
مړه ته بیا هم لا نارې کړې چې پلانی زنده باد
ښکلی پښتون یې نو بیا څنګه پنجابی زنده باد
یاره لدې نه خو مرګی،مرګی،مرګی زنده باد

CS CamScanner

له داسې خپل نه خو بیا سل څلې پرادی زنده باد
چې زما لوښي د لاهور په بازارو خرڅوي
دا څنګه خپل دی، چې مې وینې په پرادو خرڅوي
ته سر ورښکاره کړه،لوټې لوټې خر خیبر پروت دی
آخ څنګه چې ګل وزیرستان کنډر کنډر پروت دی
که دغه امن وي دا امن زه د پلار نه منم
دا څوکیدار که څوکیدار وي څوکیدار نه منم
دا ستا پر سر درې دېرش مېلیارده ډالر چا واخیستل
شرمېږې نه په جار نارې وهي چې ما واخیستل
پښتونه وه یې پېژنه تورې بلا واخیستل
مړه ته اوس هم لدې خلکو د عزت تمه کړې
چې ډونالډ ټرمپ خوشالوي ته ترې د پت تمه کړې
ضرب عضب خو د رسول د تورې نوم وو کنه
دوی پدې نوم باندې شروع زمونږ قتل عام وو کنه
وروري پر ځای پرېږده دښمن و دوی ته ډېر ښکاریدې
ته مسلمان بولې ځان دوی ته سور کافر ښکاریدې
پښتونه بس دی لږ راویښ شه نور ځان وه پېژنه
د خپلې خاورې ازلي دښمنان وه پېژنه
په قایداعظم شولې مئین خوشحال خان نه پېژنې
مُلاپیوند،میرزاعلي خان،عجب خان نه پېژنې

نور بې ننګي پربږده راځه وکړه د ننګ ملګرتیا
د ګران منظور په شان ساتمه د ملنګ ملګرتیا
د وطن شمعې سره کړه لکه پتنګ ملګرتیا
دا د پښتون دا د ژغورنې د غورځنګ ملګرتیا
و تک تور دښمن لره به تندر د اسمان جوړ شي
و ګلخانه یاره خو که نر پښتون افغان جوړ شي
د"ګیلامن وزیر" صفا خبرې زور درکوي
لالیه دا په بې ننګي باندې پیغور درکوي
ماته ژړا د پښتور هم له کابله راځي
بې ننګه ووایه په تا کې به ننګ کله راځي؟

## پېغلو ورته بیه کړل نتکی پېزوان چې ننګ کوي

پېغلو ورته بیه کړل نتکی پېزوان چې ننګ کوي
ژنې مات منګي شول نه اوبه ساتي نه تنګ کوي
زه منم چې ورور مې وو خو اوس مو وروري ګرانه شوه
زه یم په شمله منین خو دی مینه په لنګ کوي
خلکو د ګل خان مثال د هغې خرې چرګې دی
کوړت کوړت کوي یو ته او هګی د بل ترخنګ کوي
دې سري کې خه کمال شته دا چې په کمکي عمر
بې له کومې وېرې ظالمانو سره جنګ کوي
توره د نیکه راته پراته ده خو لاس نه وروړم
خنګه به سرونه غوځوي خنګه به شرنګ کوي
اې خلکو نو دغه کیسه بالکل عقل نه مني
دلته تور کارغه دی په شاهین باندې غورځنګ کوي
دا چې په کوخو ګرځي پښتون ولس ته ژوند غواړي
هغه "ګیلامن وزیر" دی خوی لکه ملنګ کوي

## شیطانه دوکانداره

سودا د انسانانو پکې کیږي نرخ ارزان دی
اې زمونږ په پاکستان کې عجیبه غوندې دوکان دی
که چېرته دې توده د پښتنو وینه پکار شوه
نو ورشه جي ایچ کیو ده،های کورټ دی پارلمان دی
معصوم پکې بندي دی،قاتل ارتې تنې ګرځي
بس دغه مو د لااله الله داستان دی
چې چا به پرېکول له انسانانو نه سرونه
هغه سړی یې نن په پایتخت باندې مهمان دی
ټاپه د دوی په لاس ده چې یې مړ کړي هم یې پړ کړي
چې دغه ترهګر وو بس پښتون دی او افغان دی
جامه کې د اسلام یې پیل کړیدي مرګ ژوبلې
دا نه ګوري ملګرو چې کافر که مسلمان دی
شیطانه دوکانداره بس دی دا کاروبار پرېږده
قسم درته کومه چې پدې کې د تاوان دی
ته وګوره دا نن چې ما د حق خبره وکړه
دوی وایي چې غدار د"اسدخېلو ګیلامان"دی

## شاعره!

شاعره په صفا ویل باندې زړه مه بدوه
د سمې لارې په ښودل باندې زړه مه بدوه
راځه سوچ وکړه تا ته څه او ما ته څه پکار دي
ته خو شاعر یې بد ته بد ویل ښه ته ښه پکار دي
ولې وېرېږې زما وروره حق ته حق ووایه
راځه کمزورې ته کمزوری کلک ته کلک ووایه
چې په یووالي د لر بر پښتونستان دعوه کړې
خاننه شاعر وایې د قوم د ترجمان دعوه کړې
په یا قربان نور لوبوه مه دا درانه پښتانه
د خپل قلم په ژبه ویښ کړه دا ویده پښتانه
خاننه پښتون هم وایې چې دا څنګه ضمیر لرې
شیطان ختلې هم ده په ژبه کې تاثیر لرې
کله باغوان یادوې کله اننګې یادوې
وروړ دې لګیا دی د قبرونو په کیندلو باندې
ته بیا څنګه سرې شونډې ستایې په غزلو باندې
خویندې د ووتې په یو بل در خیرت تولوي
اغیار راځي دا ستا ناموس او ستا عزت تولوي
کلی د ړنګ دی،کور د ړنګ دی مهاجر ګرځېږې
کله په یوه کله په بل در متأثر ګرځېږې

په کوموسترګو یا قربان کړې ماته دا ووایه
دا شوې بې ایمان که مجبوري دې ده صفا ووایه
د خپلو خویندو له فریاد نه حیاء نه در درومي
زموږ رنګین وطن ړنګیږي حیاء نه در درومي
د یتیمانو مو د تورو وینو خولې ډکې شوې
کلي په کلي مو د زنیو هدیرې ډکې شوې
کلی مو ړنګ دی هر دیوال یې غورځیدلی ښکاري
هر کاڼی بوټی یې په سرو وینو لړلی ښکاري
آ د وطن له شهیدانو حیاء نه در درومي
له کونډو،بورو،یتیمانو حیاء نه در درومي
چې له خپل کلي نه په نیمو نیمو شپو ووتل
پېغلې مو تور سر ماشومان مو بیلې پښو ووتل
زما د ګران وطن په ټول بدن زخمونه جوړ دي
په مدرسه او په جومات کې مې پارکونه جوړ دي
د قران پاک په کتابونو لمبې بلې شولې
د هر جومات منارې لوټې لوټې ټلې شولې
خوک ژوندي لاندې په دیوال شول خوک زخمي پاتې شول
له ډېرو مبندو په زانګو کې خپل بچي پاتې شول

## رب د تل لره منظوره

د لر او بر افغان د زړګي سر د سترګو توره
د هر مظلوم زړګی یې رب د تل لره منظوره
چې ته شوې را اوچت له دښمن خوب او ارام ورک دي
له دغې سرې خولۍ د په لړزان شولو غفوره
چې مونږ د ترهګر نوم ورکړ اور پر پنجاب بل شو
دوی ټول عمر پدې نوم یې وژلي بې قصوره
د لر او بر ناره د کره خوره په هر یو لوري
اوس خنګه بې ضمیره ګلخانان سوځي بې اوره
چې کوم لوښي یې پټ دي له زخمي وزیرستان نه
هغه لوښي به بیا ترېنه راوړمه له لاهوره
د عدم تشدد د لارې جنګ دی "ګیلامنه"
راپورته یې کړه جوړ کړه له قلم نه ټوپک توره

## چې په تېر بیرغ د لوی افغانستان ګرځوې

ګرم نه یې خود به زړه کې ګرکه له افغان ګرځوې
په ماغزو کې مطالعه پاکستان ګرځوې
تا ته میدان ته د تلو نشته ضرورت پنجابه
ته خو په خنګ کې د زورې خولې ګل خان ګرځوې
موږ ته د تشې خولې سلام ته لاره نه جوړیږي
اشنا په خنګ کې ډلې ډلې رقیبان ګرځوې
اکثر ګیلې کوې له نورو خو چې حق وایمه
پښتونه ته پخپل لستوني کې ماران ګرځوې
مُلا صاحبه ته چې حق نه وایې موږ د څه کړو
ته که په خېټه کې دوه نیم ټنه ایمان ګرځوې
اې "ګیلامنه" ته خو څه چې ستا نیکه غدار دی
چې په تېر بیرغ د لوی افغانستان ګرځوې

## وجود مې لوی افغانستان دی د مثال په توګه

زړه پکې پروت ولس افغان دی د مثال په توګه
د ظالمانو په اغزنو کړښو نیم کړیدی
بیا یې په ډېر وحشت په لر او بر تقسیم کړیدی
چې د دې نیم زړه یو کیدو ته څه اقدام ونکړو
ماته معلومه ده چې ژوند به په ارام ونکړو
چې وي موجود دا د تورخم تور ځنځیرونه تر څو
چې مو تر منځ وي د ډیورنډ اغزن تارونه تر څو
نو بیا بیخي په لر او بر امن د خدای قسم دی
په کابل جان او پېښور امن د خدای قسم دی
تاسې حساب وکړئ چې څومره ژړیدلي یو مونږ
د دې بېلتون له لاسه څومره کړیدلي یو مونږ
د یوه پلار زامن دښمن سره ویشلي یو مونږ
بیا یې په سل ډوله نومونو نومولي یو مونږ
بیا یې دا خپل وروڼه په یو او بل وژلي یو مونږ
له پښتونخوا چې څوک جنت حورو علمان ته لیږي
بیا یې ټوپک په لاس لوی کور افغانستان ته لېږي
مونږ که ژوبلېږو که ــوځبېږو د همدې له لاسه
په لر او بر کې وژل کېږو د همدې له لاسه
دا چې په وینو کې لمبېږو د همدې له لاسه

دا چې له هر کړنګه لوبړو د همدې له لاسه
مور یې د زوی پلار یې د لور له حاله نه خبربږي
منځ کې ښېلتون دی ورور د ورور له حاله نه خبربږي
نور نه تارونه منم نه د نور پاټک منمه
نور نه د چا زور نه یې توره نه ټوپک منمه
نه د تورخم څنځیر منم نه سپین بولدک منمه
نه د ډیورنډ ترون منم نه ګندمک منمه
صرف یو لوی کور له آمو نه تر آټک منمه
په ظلم زور چا شوکولی له خپل ځان یمه زه
ګڼي که دلته او که هلته یو افغان یمه زه
چې مو تر څو د ډیورنډ زوړ پرهر ګنډلی نه وي
پښتنو څو مې چې دا خپل وطن ګټلی نه وي
چې مو تر څو اغیار ته زور د مټ ښودلی نه وي
چې مو تر څو په آټک پُل دیوال وهلی نه وي
اې "ګیلامنه" تر هغو پر مونږ سیالي قسم ده
په افغانانو سوله،امن ،خوشالي قسم ده

## د لر او بر افغان ولسمشر اشرف غني ته

نر غني، باتور غني، زمري غني
دی د پنجاب سترګو کې اغزی غني
خدایه په خه مه کړې مېراني
وي د راته زر کاله ژوندی غني

CamScanner

## زمونږ په علاقه کې انسانان حلالیدل

خاروي مو وطني وو قصابان یې مېلمانه وو
زمونږ په علاقه کې انسانان حلالیدل
د روږ د غاړې کاڼي یې لا اوس په وینو سره دي
دلته هره ورځ خلور،پینځه کسان حلالیدل
آه په مونږ باندې هم تېر شو ازمایښت ابراهیمي
چې د مور او پلار په مخکې به بچیان حلالیدل
ښه،بد پربرده له کټ به په امسا راپاڅېدلو
په رښتیا داسې سپین ږیري بوډاګان حلالیدل
نه خیر وو استاذ ته،نه شاګرد ته،نه اُمي ته
په مسجد او مدرسو کې مُلایان حلالیدل
زه اوس هم پرې پوه نشومه چې حق او باطل څوک وو
د چا ورونه او د چا پکې پلاران حلالیدل
حق جُرم وو چې چا به هم د حق خبره وکړه
بیا جاسوس د امریکا وو په میدان حلالیدل
نور لنډ،اوږده یې څه کړې "اسدخېله ګیلامنه"
په نامه د منافق به مسلمان حلالیدل

CamScanner

# سره خولې

دا چې جوړ یې هر جابر،ظالم ته غم دی
سره خولې نده والا سم اتوم بم دی
د کافرې ترهګرۍ شاته وردې ده
دغه غړ مو اوس خور کړی چم په چم دی
دا دې لر او بر ناره ده که چاره ده
د ګلخان زړګی یې غوخ لکه غنم دی

CS CamScanner

## په افغانیت مئین یو

مونږ خو په مینه،وروروولی په انسانیت مئین یو
کوو په نوم د افغان ناز په افغانیت مئین یو
اې "گیلامنه" نه یربږو د تهمت له تاپو
هم په اسلام،هم په پښتو هم په غیرت مئین یو

## دښمن مو يو دی

د سروې، د چنار او د نښتر دښمن مو يو دی
خبر شئ پښتنو د لر اوبر دښمن مو يو دی
رنګونه يې بې شمېره دي، نومونه يې بې شمېره
د سکول، د مدرسې او د ممبر دښمن مو يو دی
زه دلته مرده باد وايم ته هلته زنده باد يې
راځئ چې سره ټول شو، يو لښکر دښمن مو يو دی
شروع نسل کشي ده په يو ځای په امن نه يو
د سمې، دښارونو او د غر دښمن مو يو دی
غدار دی چې دا نن سره مورچه يې کړل يو بل ته
قسم دی د کابل او پېښور دښمن مو يو دی
د سپينو کيسو وخت دی"ګيلامنه اسدخېله"
چې نوم يې وي پښتون، شي دې خبر دښمن مو يو دی

## مبارز ملګري حنیف"پښتین" ته

ما پر خان حرام دا دې څواني، خواږه خوبونه دي
ما پر سر اخیستي د مظلوم ولس غمونه دي
نورو خلکو کړي کم اختر ته سینګارونه دي
مونږ خو خبر نه یو دلته چیغې فریادونه دي
بس دومره توپیر دی د تورمخي او زما تر منځ
دوی رنګ په نکریزو مونږ په وینو سره لاسونه دي
های په تور پنجاب کې ګډاګانې اتڼونه دي
آخ زمونږ په کلي کې د مړو اعلانونه دي
نه اختره وبخښه ستا لمونځ ته به اوزګار نشم
لمانځم جنازې د شهیدانو کتارونه دي
آخ د پښتنو خدایه دا څنګه قسمتونه دي
بس راټولوو د زلمو مات مات اندامونه دي
جوړه کربلا ده په مچه مداخیل خړ کمر
خدایه رزیدلي څه تنکي تنکي ګلونه دي
تبر د "ګیلامن وزیر" په زړه بې حد دردونه دي
وګوره چې غوځ غوځ یې په شونډو جوړ داغونه دي

## شهید عبیدالله بارکزي ته

په تا یتیم شو د افغان ولس وطن شهیده
څه په ارمان لاړې د سولې ارمانجن شهیده
ستا د وجود غلبېل کولو ته یې زړه خنکه شو
کور یې میرات، زامن د مړه شه د دښمن شهیده
ما به د سولې زیری در وای چې ارمان د سر وای
که درسره وای زه پر وخت د خنکدن شهیده
د تور لحد سوالونه خپل درته خواب،خواب دي
سور د غیرت نښان د یوړ په کفن شهیده
چې خبر شویدی بس ژاړي نور یې هېڅ وس نشته
دا څو اشعار درته ډالی کړل"کیلامن" شهیده

## پوره کیږي به د لر او بر ارمان

مه کړه تمه له هندو نه د ایمان
چېرته، ننګ غیرت،پښتو چېرته ګلخان
چېرته فکر د دوو ورځو پاکستان
چېرته لار د باچاخان یا صمدخان
دا کیدای نشي لمسی د خوشحال خان
چې منکر وي له نامې نه د افغان
تاریخونه يې ګواه دي په جهان
د ابدال، دغزنوي د میرویس خان
له دوی هېر دي ګجوخان اوباکوخان
پېژني نه عجب خان،میرزاعلي خان
چېرته دا د تور زاړه شیطان یاران
چېرته زور د ملالی د یا قربان
چې په پل د پیونده شي ځوک روان
دوی يې بولي ایجنټان او غداران
اوس د خوار ولس ریښتینی ترجمان
منظور جان دی،منظورجان دی،منظورجان
پوره کیږي به د لر او بر ارمان
وخت راغلی دی په فضل د سبحان
چا چې خرڅ دي خپل ضمیر او خپل وجدان
له هغو به ګیلې څه کړي"ګیلامان"

## په هغه لوی افغانستان مئین یم

زه په پاک دین د پاک سبحان مئین یم
زه په اسلام زه په قران مئین یم
په حدیثونو د جانان مئین یم
زه په نبي اخر زمان مئین یم
د مذهبي رواداری قایل یم
په هر انسان هر مسلمان مئین یم
زه مې پر لر او بر افغان مئین یم
زه د خپل قام په اتلان مئین یم
زه د محمود غزنوي بچی یم
په احمدشاه په میرویس خان مئین یم
پښتونستان مې د ژوندون مقصد دی
زه په حاجي میرزاعلي خان مئین یم
یقین په عدم تشدد لرمه
په فلسفه د باچاخان مئین یم
د سپینو تورو شرنگهار مې خوښ دی
په خوشحال خان په عجب خان مئین یم
د پیونده ملا د باغ بلبل یم
په نظریه د صمدخان مئین یم
زه د جرگو د مرکو سړی یم

په باکوخان په کجوخان مئین یم
تاریخ زما په ننګ غیرت ګواه دی
په پیر روښان او دریاخان مئین یم
د زرغونې آنا په غبرګې لوی یم
د ملالې په یا قربان مئین یم
سر ورکوم خو سنګر نه ورکوم
زه په نجیب زه په امان مئین یم
خو نن سبا مې چې د زړه ټکور دی
هغه بیخي په منظورجان مئین یم
علي وزیر،محسن داوړ مې وياړ دي
د عبدالله غوندې په خوان مئین یم
چې له حد زیات پرې"ګیلامان" مئین یم
هغه په لوی افغانستان مئین یم
وطن مې ځان دی زه پر ځان مئین یم
زه په شرین وزیرستان مئین یم

## علي وزير ته

لونګی شمله له داسې زمریانو سره خوند کړي
په خدای که له د بعضو هیجړاګانو سره خوند کړي
اې نن سبا فېشن جوړ دی بس هر ټېپر اوړده وي
اوږده برېت خو له دغسې نرانو سره خوند کړي
مونږ یو الله منو لدې تورمخو نه وېرېږو
فالش د سمسبرو سلندرانو سره خوند کړي
جار نر وزیر علي وزیر خو سپینې سپینې وایي
په لاره تګ له دغسې مشرانو سره خوند کړي
"وزیره ګیلامنه" ورک د شي د داووسی مرګ
مرګی په سپین ډګر له دښمنانو سره خوند کړي

## مرګ مې روا دی

ماته مه ګورئ قانون مرګ مې روا دی
چې پښتون يمه پښتون مرګ مې روا دی
زه د خوار وزيرستان خواره مرغی يم
بس که نن وو که پرون مرګ مې روا دی
ستا فتوا باندې کافر يمه بې شکه
ستا فتوا کې يم قارون مرګ مې روا دی
"ګيلامنه" زړه د ښه راباندې سوړ کړه
نه مې پور شته نه مې خون مرګ مې روا دی

## دا په پیوند او میرزاعلي پسې خبرې کوي

خوک چې منظور،محسن،علي پسې خبرې کوي
دا په پیوند او میرزاعلي پسې خبرې کوي
چې ګله اورم د ګلخان کیسې نو زړه کې وایم
چې شین هیجړا په سم سړي پسې خبرې کوي
په خوله څه نه وایم قسم دی زړه مې اور اخلي
چې بې ایمان په غیرتي پسې خبرې کوي
اې"ګیلامنه"چې ګلخان افغان ته ډوزې ولي
لکه کیدړ چې په زمري پسې خبرې کوي

## ګیلامان وزیر ترې سل ځله قربان دی

خوک چې ژبه د پښتو وایي افغان دی
چې یې نه مني پښتون ندی ګلخان دی
خوک چې خپل تاریخ ته شا کړي هغه ورک شي
مونږ ته پاتې دا وصیت له باچاخان دی
چې چرچې یې تر ډیلي وې رسیدلي
خلکو هغه مې ریښتیني باباجان دی
دا سړی چې د مغلو غلامي کړي
ته مني چې دا لمسی د خوشحال خان دی
چې په چا مې پلار نیکه کلیمه زده وه
ما راوړی په هغو باندې ایمان دی
وایه زه خرنګه لنګ له ځانه تاو کړم
چې شمله مې د پښتو نام و نښان دی
دا د هغه میرزاعلي وزیرستان دی
که یې سر ځي په پښتو او پښتونواله
"ګیلامان وزیر"ترې سل ځله قربان دی

## د خړ کمر دشهيدانو په ياد

سبا اختر دی واړه خلک په سينګار لګيا دی
هغه بدبخته انسان څوک دی په مزار لګيا دی
اُف دا کوم قام دی پخپل کور دننه وژني سره
ورور له ورور غوښې پريکوي او زوی په پلار لګيا دی
نور هيوادونه په پطرول او په ډيزل چليږي
زمونږ په ملک کې په سرو وينو کاروبار لګيا دی
نيم يې ژوندي تېر کړيدي او نيم يې مړه تېر کړي
په پښتنو څوانانو داسې تور ښامار لګيا دی
ما چې ساتلی وو د کور د حفاظت لپاره
نن مې د کور په لوټمار هغه څوکيدار لګيا دی
چې دوه مئين وي يا رقيب يا يې غماز بېلوي
زما د يار په بېليدو باندې ريبار لګيا دی
دلته يو کس دی په ښکاره حلالوي انسانان
په لاس کې توره او په خوله استغفار لګيا دی
څوک چې زمونږ فرياد ته ګوري د غدار په سترګه
زمونږ په مرګ کې د هغو خلکو روزګار لګيا دی
که د خپل حق غوښتنه جُرم وي مجرم دی خلکو
بيا خو غدار دی"ګيلامان وزير"په جار لګيا دی

## چېرته خوشحال چېرته مغل دا سمون نه سره خوري

چېرته صادق او چېرته غل دا سمون نه سره خوري
چېرته خوشحال،چېرته مغل دا سمون نه سره خوري
وخته لا نور به استحصال زمونږ تر څومره کوې
زمونږ زړا او ستا خندل دا سمون نه سره خوري
دعوه د قام د ترجمان د پښتنو شاعر ته
چې يادوې شوندې چارګل دا سمون نه سره خوري
د مسلمان سرې وژنه د جنت په خاطر
داسې غازي جنت ته تلل دا سمون نه سره خوري
خير دی د واګا په باډر د خلک ځي او راځي
خو په تورخم تلل او راتلل دا سمون نه سره خوري
اې"ګيلامنه" د ولس ترجماني په کار ده
دا انقلاب او ستا غزل دا سمون نه سره خوري

## اوربند لالیه!

پخوا جنګونه وو اعتبار نه وو په ژوند لالیه
اختر ته راشه اعلان شویدی اوربند لالیه
دا ځل اختر به ښه په مینه په مستئ تېرروو
چې دا د سولې غږ هر چاته ګړو خوږګند لالیه
مخکې خو هم نه وو رانجه نه مې کالي اغوستل
دا ځل به اخلمه له ډول سینګار خوند لالیه
اې"کیلامنه"زه به تا او ته به ماته ګورې
راډکوې به د سرو شنو بنګړو مړوند لالیه

## کافر له پاسه په ممبر د کړمه

په وینو سور پرهر پرهر د کړمه
د مور په غېږ کې ترهګر د کړمه
چې ته عسکر شوې نو طالب شومه زه
چې ته طالب شوې نو عسکر د کړمه
زه د په هر رنګ کې وژلی یمه
کافر له پاسه په ممبر د کړمه
افغان بچی یم در په در د کړمه
خرڅ په کلدارو په ډالر د کړمه
په "ګیلامن" هبڅوک زړه نه خوږوي
قتل په داسې چل هنر د کړمه

## کله چې کشمیر د هند برخه وګرځیده

پرون د پنجابک شهباز شریف د خولې بیان
هغه دی نن یې اور واخیست لمبه شو کابل جان
په دوی چې توبې اوباسي کشمیر کې هندوستان
دوی راشي بدله اخلي له خوار افغانستان
اوس ته او خدای چې داسې کار به وکړي مسلمان
چې تمه د جنت کوي او وژني ماشومان
افغانه پاڅه ویښ شه بس دی وپېژنه خان
دا تور مفادپرست خلک دې نه شماري انسان
تر څو به د بل لاس وي ستا ریښې ریښې ګریوان
په هر کور کې دې ژاړي کونډې بورې یتیمان
یه خدایه نور مونږ تنګ یو بس دی رنګ کړه دا جهان
په یو حال مو ارام نه پرېږدي دغه ظالمان
ملګرو"ګیلامان" یمه دې خلکو ته حیران
چې دا جبر کوي دا به انسان وي که حیوان

## ستا په ننګ

ستا په ننګ وطنه ډېر ګلونه خاورې شویدي
ستا په ننګ ډېر لوړ شخصیتونه خاورې شویدي
واورئ خلکو لوی افغانستان د ننګیالو کور دی
دلته ډېر مغرور سرونه خاورې شویدي
دا د غزنوي،امان، میرویس نیکه ټاټوبی دی
دلته سُپر سُپر طاقتونه خاورې شویدي
څوک یې چې د واک د اخیستو په نیت راغلي دي
دلته یې هم هغه ارمانونه خاورې شویدي
چا چې جوړوله ترې پنځمه صوبه ها ها ها
دلته د هغو تورو لنګونه خاورې شویدي
خیر دی" ګیلامنه" که په ننګ د وطن مړ شې څه
ستا نه ډېر نازک مخونه خاورې شویدي




ARYAN PASHTO LIBRARY
+971501455350

## اویا کاله برباد شومه!

چې زه په اتفاق او اتحاد شومه ملګرو
نو راء شوم، ابن ډي ابس شومه موساد شومه ملګرو
اخر زمونږ په وینو دا سرې کله مړېږي
اویا کاله تباه شومه برباد شومه ملګرو
پیدا چې یم پدې خاوره ما ښه ورځ پیدا نکړه
بس تش د زنده باد او مرده باد شومه ملګرو
چې امن وو غدار وم،شرپسند وم،ترهګر وم
چې جنګ شو په باردر بیا ورته یاد شومه ملګرو
کور ته په جرګه ورغلم بیا مې فریاد نه اوري
را تاو یې په لاهور، اسلام اباد شومه ملګرو
نور تنګ یمه مجبور یمه د خان تپوس کومه
نور سترې په ژړا او په فریاد شومه ملګرو
"وزیره ګیلامنه" زه ترې سل ځله قربان شوم
خو بیا هم د هغه په خوله فساد شومه ملګرو

چاپ چاري: کتاب کور، دکان نمبر ۱۸، بېسمنټ انعام پلازه
(پخواني اورکزئي پلازه) یونیورسټي روډ پېښور



Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350